# د داخلي توليداتو لپاره بازار موندنه

پوهنمل حفيظ اللهٔمين امين، شيخ زايد پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، اداره او تجارت څانگه.
برېښناليک: hafizullahmeenamin@szu.edu.af

**لنډيز**

په دې کې شک نه شته چې د پرمختگ په لور گام اخيستل د ننني ټولنې يو له اساسي موخو څخه شمېرل کېږي؛ نو له همدې امله د توليداتو ملاتړ، په مصرف کې اعتدال او د هېواد د اقتصادي سوکالۍ احساس رامنځ ته کېږي. د همدې موخې لپاره د داخلي توليداتو ملاتړ او د مصرف په اړه د خلکو روزنه په ټولنه کې ډېرې مثبتې اغېزې لري، چې د اقتصادي ودې، د کار رامنځ ته کول، د بيکارۍ د ستونزو حل، د عايد زياتوالی، د کورني استعدادونو وده، د نړيوالې سوداگرۍ وده، د صنعتونو او فابريکو وده او داسې نور مثبت تاثيرات لري. د پورته موخو تر لاسه کولو لپاره مو د کيفي ميتود څخه استفاده کړې او د دوهم لاس مالوماتو څخه په استفادې مو د څېړنې پايله ترلاسه کړې ده. د يادې څېړنې پايله دا راته ښايي چې د مناسبو اقداماتو په اساس بايد په يو هيواد کې د اقتصادي پاليسيو په شتون کې د کورني توليداتو ملاتړ صورت ونيسي. د ملي اړتياوو او غوښتنو له پوره کيدو څخه وروسته محصولات نورو هېوادونو ته د صادراتو لپاره وړاندې شي او په نړيوال ډگر کې د صادراتو او سوداگرۍ پراختيا ټولنه په يوه لوی او خپلواک اقتصادي ځواک بدله کړي؛ ترڅو له يوې خوا خپلو داخلي توليداتو او صنعتونو ملاتړ د قوانينو او مقرراتو په رڼا کې ترسره شي او تر څنگ يې د مصرف او کلتور له پلوه ورته زمينه برابره کړو، چې د داخلي توليداتو ملاتړ د ودې او پرمختگ په مانا دی او له بلې خوا د هېواد د ننه د کار قوې استخدام رامنځ ته کېږي او د بيکارۍ په له منځه وړلو کې کليدي رول لوبوي.

**کليدي ټکي:** استخدام، اقتصادي وده، بازارموندنه، بيکاري، داخلي توليدات.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدالله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.**

**ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُون، مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ، وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ (الايات).**

لکه څرنگه چې الله تعالی د انسانانو پيدا کوونکی دی، همدارنگه د انسانانو رب هم دی، د خپلو بندگانو ساتنه او پالنه کوي او دوی ته روزي ورکوونکی دی او د حلال رزق په لاسته راوړلو باندې په قران کريم او نبوي احاديثو کې بار بار يادونه شوې ده؛ نو د دې لپاره چې حلال رزق ترلاسه کړو موږ بايد کار وکړو او د شته نعمتونو څخه زياته گټه لاسته راوړو. په همدې ترتيب بايد د شته علم او پوهې په اساس بايد

نوي تکتیکونه رامنځ ته کړو ترڅو تولیدات رامنځ ته او د دې تولیداتو د ضرورت وړ برخه په خپله مصرف کړو او پاتې برخه یې نورو ته ورسوو. داخلي تولیداتو ته د ودې او پرمختګ لپاره د بازار موندنې په برخه کې د یوې مؤثرې پالیسۍ شتون اړین دی. په هغو هېوادونو کې چې د خپلو تولیداتو وده او پراختیا غواړي، د بازار موندنې یوه منظمه او اغېزمنه ستراتیژي د اړوندو اقتصادي اهدافو په ترلاسه کولو کې مهم رول لوبوي. د داخلي تولیداتو بازارموندنه د اقتصادي ودې، د کارموندنې د زیاتوالي او د محلي کلتور د ساتنې لپاره مهمه ده. په همدې لیکنه کې د داخلي تولیداتو پر ستونزو بحث شوی دی لکه: د داخلي تولیداتو لپاره عامه پوهاوي نشتون، د داخلي تولیداتو کیفیت نشتون، د معتبرو سرچینو نشتون، د ستنډرډ نړیوال سازمان (ISO) سره د تولیداتو د ثبت نشتون او داسې نور. د دې لیکنې موخه دا ده چې د داخلي تولیداتو لپاره بازار پیدا او په زیاته اندازه سره خپل داخلي تولیدات په خرڅلاو ورسېږي او خلکو ته وښیو چې د غوښتنو مطابق اجناس د هېواد دننه تولیدېږي او په همدې ترتیب سره د داخلي تولیداتو د بازارموندنې لپاره بېلا بېل نړیوال معتبر ژورنالونه او سایټونه مطالعه شوي دي. د پورته موضوع اهمیت دا دی چې له یوې خوا به کاروباري اداري ګټه ترلاسه کړي او له بلې خوا به خلک په کار بوخت شي او د بیکارۍ په له منځه وړلو کې موثر تمام شي. دا یوه کیفي څېړنه ده چې د دویم لاس مالوماتو څخه پکې استفاده شوې او دویمي لاس مالومات له بېلا بېلو علمي کتابونو، علمي لیکنو، مجلو، معتبرو داخلي او نړیوالو ژورنالونو څخه ترلاسه شوي دي او د لیکنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوي دي.

## د څېړنې موخې

۱. د داخلي تولیداتو پېژندنه.

۲. د داخلي تولیداتو ملاتړ لپاره د اقتصادي وسایلو په ګوته کول.

۳. د داخلي تولیداتو د ملاتړ بېلا بېل لاملونو پېژندل.

## د څېړنې اهمیت

دا چې هېواد مو له زیاتو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دی او د داخلي تولیداتو په برخه کې پانګونه په نشت حساب ده د دې لپاره چې د هېواد دننه داخلي تولیدات رامنځ ته شي او پرمختګ وکړي؛ نو اړینه ده چې د داخلي اتباعو یا هم د هېواد څخه د باندې اشخاص د تولیداتو په بېلا بېلو برخو کې پانګونې ته جذب شي او په دې برخه کې ورته د پانګونې فرصتونه ایجاد شي، چې له یوې خوا به کاري ظرفیت لوړ شي او له بلې خوا به خلک په کار بوخت شي او د بیکارۍ په له منځه وړلو کې موثر تمام شي.

### تولید (Production) پېژندنه

د دې لپاره چې انسان ژوند وکړای شي نو باید د غذايي موادو او استوګنځي اړتیاوې یې رفع وي؛ نو ځکه تولید ته اړتیا پېښیږي او تولید د ژوندانه ضروري شرط دی. تولید تل خلک ټولنیز او ګروپي کارته اړکړي دي. د تولید په باره کې د اقتصاد د علم د عالمانو او پوهانو له خوا په مختلفو ډولونو سره د تولید تعریف په اړه نظریات وړاندې شوي دي او هر اقتصاددان د خپلو نظریاتو مطابق تولید تعریف کړی دی او په هغه باندې یې ټینګار کړی دی. دا تعریفونه په ملي اقتصاد او تصدي اقتصاد کې د یو بل سره توپیر لري. د دې لپاره چې د تولید ټولې برخې او خواوې په نظرکې ونیول شې نو بهتره دا ده چې دغه نظریات او تعریفونه هر اړخیز تر بحث او مطالعې لاندې ونیول شي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۱۹).

### تولید څه شی دی؟

د محصولاتو د جوړولو بهیر یا د خدماتو چمتو کولو پروسې ته تولید ویل کېږي. هغه سوداګری چې محصولات یا خدمات تولیدوي د تولید کوونکو په نوم پېژندل کېږي. تولیدونکي د مصرف کوونکو لپاره د کاروني وړ محصول تولیدولو لپاره خام توکي یا ډېری توکي سره یوځای کوي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۱۹).
تولید یا (Production) د بشر د اړتیاوو او ِغوښتنو د پوره کولو یا د خدماتو د ترسره کولو لپاره د اموالو د ګټورتوب د زیاتوالي له بهیره عبارت دی.
تولید په پراخ مفهوم سره عبارت دی د تولید د عواملو د ترکیب او یا ګډولو د خدماتو یا اجناسو په غرض او د تولید اصطلاح په ملې اقتصاد کې ډېره رواج شوي اصطلاح ده او د تصدي ټولې دندي لکه برابرول، خرڅول، تولیدکول او داسې نورې ورسره ارتباط لري او دوی باید د یو بل سره په ارتباط کې مطالعه او بررسي شي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۰).
تولید په ساده مفهوم سره تمویل او خرڅول په برکې نیسي ولي په حقیقت کې د مجدد تولید ټولې پروسې د تولید د پروسې سره نشلیدونکي ارتباطات لري که چېري تولید صورت و نه نیسي نو د تبادلې، توزیع، مصرف پروسې به هم موجودي نه وي او بالاخره ژوند کول به امکان ونه لري. له بله طرف تولید او د تولید پروسه د یو او بل سره عین شی نه دي؛ ځکه چې د دې دواړو ترمنځ یو لړ تفاوتونه موجود دي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۰).
په ساده ډول سره تولید عبارت دی د اجناسو او خدماتو پیدا کول د احتیاجاتو د رفع کولو لپاره چې دا تعریف یو ډېر اساسي نقص لري چې هغه دا دی چې د خامو مواد استخراج په استخراج کوونکو تصدیو کې نه احتواکوي.

تولید د اقتصادي او تخنیکي چارو د یوالي څخه عبارت دی، چې د اجناسو او خدماتو د پیداکولو لپاره چې بشري احتیاجات او ضرورتونه پوره کړي او تصدي خپل هدف ته چې گټه یا مفاد ته ورسیږي (اځړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۱).

تولید: هغه فعالیتونو ته چې په وروستي تحلیل کې د مطلوبو اجناسو یا خدمتونو لاس ته راوستلو سبب گرځي، تولید ویل کیږي. تولید د اړتیاوو سره سم صورت نیسي په دې شکل چې تولید شوی محصول په واسطه کولای شو د انسان د اړتیاوو یوه برخه رفع او له مینځه یوسو.

تولید د ټولنې ودې ته د ضروري امتعو د پیدا کولو له بهیر څخه عبارت دی.

تولید د نظریې له مخې تولید یو عمل دی چې په واسطه یې مخارج (In Put) د حاصل ( Out Put) شکل اختیاروي.

مخارج (In Put) اشیاء او خدمات دي چې په مرسته یې حاصل رامنځ ته کیږي. حاصلات ( Out Put ) هغه اشیا او خدمات دي چې د تولید په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

که موږ غنم لاس ته راوړل غواړو زموږ لپاره ځمکه، سره، اوبه، مزدور او یو څه ماشینرۍ ته ضرورت دی، چې دې ټولو ته (In Put) ویل کیږي یا هم د تولید عوامل گڼل کیږي او لاسته راغلو غنمو ته حاصل ( Out Put) ویل کیږي.

تولید یوازې په مصنوعاتو پورې محدود نه پاتې کیږي بلکې هر ډول اجناس او خدمات چې د یوه ضرورت د رفع کېدو سبب گرځېدای شي او خرڅلاو یې صورت ونیسي په تولید کې شامیلیږي، همدارنگه په گدامونوکې د اجناسو ساتل او د گدامونو څخه بازار ته عرضه کول یا د اجناسو انتقالېدل د تولید د عملیې یوه برخه تشکیلوي، باید علاوه کړو چې یوازې گټه حاصل کوونکي کاروبارونه تولید نه دي بلکه داسې فعالیتونه چې په تاوان سره د عامه خدماتو په خاطر صورت نیسي، چې د دولت یا خیریه مؤسسو له خوا تمویلیږي هم تولید گڼل کیږي (اځړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۲).

تولید د هغو فعالیتونو څخه عبارت دی چې په ورستني تحلیل کې د معلومو اجناسو یا خدمتونو د لاس ته راتلو سبب گرځي تولید بلل کیږي او د ضرورت سره سم صورت نیسي او همدا شان تولید هغه پروسه ده، چې د انسان او طبیعت په منځ کې د متقابل فعالیت او یا متقابل تاثیر رابطه ښیي، چې د هغې په نتیجه کې داسې مادي نعمتونه او شیان جوړیږي؛ کوم چې د ټولنې د موجودیت او ترقۍ لپاره ضروري دي.

تولید د بشري ټولنې د پرمختگ په هره مرحله کې موجود وه او موجود به وي. د مادي نعمتونو د جوړولو په وخت کې (د تولید وسایل او د استعمال وړ مواد) انسانان په مختلفو اړیکو او مناسباتو کې د مشترک فعالیت لپاره داخلیږي. له دې کبله مادي نعمتونه همېشه اجتماعي او ټولنیز خصوصیت لري (اځړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۴).

**د توليد د رامنځ ته کيدو شرايط او د هغې تاريخي سير**

بشر د ټولنيزې ودې په لاره کې اوږده پړاوونه وهلي دي. د لومړنيو انسانانو له ټولنې څخه، چې د تېر او کمان پر مرستې يې وحشي ژوي ښکار کول بيا زموږ تر پېړۍ پورې، چې انسان د ميخانيکي او تکنالوژيکي دستګاوو پر اختراع بريالی شوی دی، ډېر اوږده واټنونه په لږه موده کې وهلي او له يوې قارې يا (لويې وچې) څخه بلې قارې ته لېږديدلي، چې اوس نننۍ نړۍ هغه ته د لويې کلا حيثيت لري. نن کولای شي په لږه موده کې له يوې کوڅې څخه بلې کوڅې ته ولاړ شي او پر دې بريالي شوي دي، چې خپلې ټولې چارې د ميخانيکي دستګاو له لارې اداره خوندي او خپلې کړي. انسان بريالی شوی دی، چې په سمندرکې لکه کب (ماهي) لامبو وهي او په تل کې يې ننوځي، نه يوازې دا بلکې له ماهيانو او الوتونکو څخه په دې سيالۍ کې مخکې شوی هم دی. انسان په طبعت کې قادر شوی، چې د غرونو او لويو لويو تيږو په زړونو کې لارې پيدا کړي، سيندونه يې د ځان تابع ګرځولي او تل ته يې لاره پيدا کړې ده د بخار، ګاز او د برېښنا ځواك يې د ځان د ګټې لپاره تر خپلې اغېزې لاندې راوستی او اتوم يې تجزيه کړی دی. فضايي سفرونه يې پيل کړي او زيار يې ويستی، چې بېلا بېلو سيارو ته لاړ شي. په دغه ټوله موده کې انسانانو د خپل ژوند د دوام په خاطر هڅې، هاند او کار کړی دی او ورو ورو يې د کار د وسايلو د ښه والي په پايله کې د کار محصول لوړ کړی دی. د انسان د پرمختګ معيار همدغه د اجناسو د توليد او ودې پايله ګڼل کيدای شي. د بشر د ودې هره پېړۍ د انسانانو ترمنځ د ټاکليو اړيکو د امتعو د توليد، تبادلې وېش او مصرف سره مطابقت کړی دی. په لومړيو وختونو کې د انسانانو د کار محصول ډېره ساده بڼه درلوده. له ډېر پخوا څخه کله، چې د انسانانو د توليد بهير ورو ورو ځانته پېچلې بڼه ومونده؛ نو د ټولنې ټولې اړيکې هم پېچلې شوې. د وخت پر تېريدو له لومړني کوچياني ژوند څخه وتلي دي، له دې مخکې هغه انسانان تل د طبعيت تابع وو، په ګرمۍ کې به يو ځای او په يخنۍ کې به بل ځای ته په ډله ييزه توګه تګ راتګ کېدو. دوی پر هغو ځايونو کي مېشتېدل، چې پريمانه اوبه، ښه هوا، د ښکار وړ ژوي او ښه شنه واښه به پيداکيدل. په پای کې انسانانو وکولای شول لږ تر لږه د خپل کار او هوښيارۍ په پايله کې ځمکه وکري، تخم وشيندي او ځمکه قلبه کړي د حاصلاتو پر را ټولولو يې توليد پيل کړی دی، چې په حقيقت کې همدا د انسان لومړنی توليد و، خو د دغه توليد او کار محصول لا تر هغه وخته پر اجناسو بدلون نه وو کړی، يعني دا د اجناسو توليد نه ګڼل کېده. دغه راز اقتصاد پوره طبيعي اقتصاد و. د تاريخ څېړونکو د څېړنو له مخې څه ناڅه درې ميليونه کاله پخوا د بشريت او انسانانو ژوند د لومړنيو ټولنو بڼه درلوده، چې دغه پېر تر ډېرې مودې دوام موندلی دی. د انسانانو د ژوند په دغه دوره کې د مادي محصولاتو توليد دوه پړاوه درلودل، چې په لومړي پړاو کې په طبعيت کې د تيارو، موجودو او

چمتو موادو راټولول او په دویم پړاو کې د مالدارۍ او کرنې په ساحه کې د امتعو بیا تولید شامل دی (سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۱۶).

پورتني دوه پړاوونه د لومړنۍ ټولنې د تاریخي پړاوونو د خاصو ځانګړتیاو ښکارندوی دي. په دغه مرحله کې انسانانو د تولید ډېر لومړني وسایل درلودل او د طبعیت د ځواکمنو ځواکونو په مقابل کې یې پر ټولیزه توګه ژوند کاوه او کار یې هم پر ټولیزه بڼه و. د هغه وخت کار او د تولید وسایل ډېر ساده وو. د خلکو دغو کوچنیو ډلو چې پر ټولنیزه توګه یې ژوند کاوه یا به سره خپلوان وو یا به هم د یوې طایفې وو او د هغه وخت کار د نارینه او ښځینه او یا به د عمر او کال له مخې نه وو رامنځ ته شوی او د کار وېش نه و رامنځ ته شوی بلکې کار ټولنیزه بڼه درلوده. ورو ورو د ټولنې د لومړنۍ پېر په پړاونو کې د اقتصادي پرمختیا له امله د کار وسایلو پرمختیا ومونده او انسانانو پر تیرو سربېره د هډوکو او لرګیو کارول پیل کړل (سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۱۷).

پر تولیدي وسایلو د خصوصي مالکیت پیداکېدل او د اضافي محصولاتو رامنځ ته کېدنې طبیعي اقتصاد له کارونې وغورځولو او د اجناسو د تولیدونکو ترمنځ شدید رقابت پیل شو، چې د ځینو تولیدونکو د ماتېدو او د ځینو نورو تولیدونکو د پیاوړتیا لامل شو او په تدریج سره د مؤلدینو اقتصادي بېلوالی رامنځ ته شو. زموږ په لرغوني هېواد افغانستان کې دغه دوره د میلاد څخه د مخه ۷-۸ پېړۍ کې موجوده وه. د لرغونپوهنې څېړنې ښيي، چې د ایبکو او بلخ په شاوخوا سیمو کې خلک پر لومړنیو کرنیزو کړنو او مالدارۍ اخته وو هغوی آس، غرني پسونه او ګوزن ښکارول په افغانستان کې طبیعي اقتصاد د میلاد څخه درې یا څلور زره کاله پخوا موجود و. په افغانستان کې د میلاد څخه درې یا څلور زره کاله د مخه د هلمند او سیستان په شاوخوا کې ښو او طبیعي ځمکو دا امکان برابرکړ، چې خلکو پر کرنې پیل وکړ په دې ځای کې نه یواځې اوبو خورې کرنې وده وکړه، بلکې د ځانګړیو کارونو سرته رسونه هم رامنځ ته شوه. کلالۍ او مسګرې دودیزه شوه او په ټولنو کې اضافې تولید پخپله د دې سبب شو، چې د لومړي ځل لپاره تبادله صورت ونیسې، همدا وخت و، چې اجناس د خرڅلاو او پلورلو یا تبادلې پر منظور تولید شول او د اجناسو تولید رامنځ ته شو (سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۱۸).

په افغانستان کې د لاجوردو پیدا کېدل او کشف د تبادلې د پراختیا شهادت ورکوي. په دې ترتیب سره په افغانستان کې درې زره کاله پخوا د اجناسو تولید تر سره شوی طبیعي اقتصاد خپل ځای په تدریجي توګه د اجناسو تولید ته پرېښود او په دې توګه په ثبوت ورسیده چې د کالیو د رامنځ ته کیدو لپاره دوه ستر لاملونه ضروري شول چې یو د کار د ټولنیز وېش لازمه وده او دویم د مؤلدینو اقتصادي بېلوالي،

چې دغه دوه ډوله لاملونه په نړیوال تاریخي بهیر او هم په خپله هېواد کې وځیړل شول(سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۲۲).

## د داخلي توليداتو د ملاتړ لپاره اقتصادي وسايل

د داخلي توليداتو د ملاتړ لپاره اقتصادي وسايل په لاندې ډول سره ښودل کېږي؛ خو مخکې له دې چې ياد وسايل په ګوته شي اړينه ده چې لومړی يې اهميت واضح کړو.

## د اقتصادي ودې د تضمين لپاره د داخلي توليداتو د ملاتړ اهميت

په دې کې شک نشته چې د اقتصاد او علمي فکر موضوع بايد د حکومت د پروګرامونو په سر کې وي. د دې په پام کې نيولو سره چې د پرمختګ انديښنه او د پرمختګ په لور حرکت کول د نننۍ ټولنې يو له بنسټيزو موخو څخه ده، نو له همدې امله د توليد ملاتړ، په مصرف کې اعتدال او د هېواد د اقتصاد سوکالۍ احساس کېږي. د ملي توليداتو ملاتړ او د مصرف په اړه د خلکو روزنه په ټولنه کې ډېرې مثبتې اغېزې لري، چې د اقتصادي ودې، د کار پيدا کولو، د بيکارۍ د ستونزې د حل، د عايداتو زياتوالی، د کورنيو استعدادونو وده، د نړيوالې سوداګرۍ وده، د صنعتونو او فابريکو وده او داسې نور دا ګټورې ټولنيزې او اقتصادي پايلې راوړي چې په پای کې د دوامداره او اوږدمهاله پرمختګ لامل کېږي، ځکه چې د دوامدار پرمختګ يوه وسيله د کورنيو توليداتو وده ده د هغې ملاتړ کول او د کورنيو کارونې لپاره په کيفيت لرونکي محصولاتو بدلول دي. د ملي اړتياوو او غوښتنو له پوره کېدو وروسته محصولات نورو هېوادونو ته د صادراتو لپاره وړاندې کېږي او په نړيوال ډګر کې د صادراتو او سوداګرۍ پراختيا ټولنه په يوه لوی او خپلواک اقتصادي ځواک بدلېږي له همدې امله د دې مسئلې د لا روښانه کولو لپاره، د کورنيو توليداتو د ملاتړ مثبتې اغېزې، په اقتصادي وده کې د هغې اهميت د هېواد د ملي توليد په نننۍ مقاله کې تبصره شوې ده. د افغانستان کورني توليدات چې تر ډېره د کرنې او صنعت په برخو پورې اړه لري، زموږ د هېواد په وده، پرمختګ او اقتصادي ثبات کې ډېر مهم دي له همدې امله د کرنې سکتور د اقتصادي ودې او پراختيا لپاره يو له مهمو سکتورونو څخه دی او په هېواد کې د عايد ترټولو اساسي سرچينې ګڼل کېږي؛ ځکه چې دا د ټول کورني ناخالص توليد څلورمه برخه تشکيلوي او د هېواد له ۵۰ سلنې څخه ډېر خلک په دې برخه کې په کار بوخت دي. کرنه د افغانستان په اقتصاد کې ډېره مهمه ده. دا سکتور د هېواد د اقتصاد يو له خورا ځواکمن سکتور څخه دی او د خلکو د ژوند اصلي برابروونکی هم دی، د صنعت سکتور د هېواد په اقتصاد کې د پام وړ ونډه او خورا لوړ ظرفيت لري؛ ځکه چې دا

سکتور د هېواد په اقتصادي سلسله کې بنسټيز ګټل کېږي. له همدې امله د کرنې په برخه کې د افغانستان لوی ملي او صادراتي محصولات چې په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې ځانګړی شهرت لري او زموږ په اقتصادي وده او پرمختګ کې ستر ارزښت لري للمي غنم دي چې د غلې دانې په برخه کې د پام وړ ونډه لري. د وچې مېوې صادرات په ځانګړي ډول زردالو، بادام، پسته او جلغوزي د افغانستان له مهمو صادراتي منابعو څخه دي، دغه راز زیتون، هنګ او زعفران له هغو ملي محصولاتو څخه دي چې په بهرنیو بازارونو کې ښه شهرت لري. د لبنیاتو محصولات زموږ د هېواد یو له خورا مهم محصولاتو څخه دي چې په هېواد کې کارول کېږي. په صنعتي سکتور کې زموږ د هېواد کورني تولیدات ساختماني توکي، خوراکي توکي، پلاستیکي صنعتونه، لبنیات او مشروبات شامل دي. د ورکړل شویو شمېرو له مخې، د معدني اوبو د تولید په برخه کې د کورنیو فابریکو تولید، د پلاستیکي صنایعو او یو شمېر ساختماني توکو تولید دومره کچې ته رسېدلی چې دغه هېواد ورته بهرنیو توکو واردولو ته اړتیا نه لري. د افغانستان لاسي صنایع چې اوبدل، ټوکر، معماري، نقاشي، فلزي کار، سرامیک جوړول، ګنبد جوړول، شیشې جوړول، د بوټانو ګنډل، عطر، مسالې جوړول او داسې نور شامل دي. زموږ د هېواد د غالیو اوبدلو او غالۍ اوبدلو صنعت په نړۍ کې بې ساری شهرت لري، چې ټول د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري او پر دې تکیه کولو سره د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ هیله کولی شو. د ملي تولیداتو ملاتړ د اقتصادي ودې معنی لري د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره باید په کورنیو تولیداتو او صنایعو تکیه وشي. په دې توګه دولتونه او مخ پر ودې دولتونه باید د کورنیو تولیداتو او ملي تولیداتو ډګرونه لوړ کړي. په یو هېواد کې ملي تولیدات هغه وخت لوړ او وده کوي چې نه یوازې د کورنیو قوانینو او مقرراتو له خوا یې ملاتړ او هڅول کېږي بلکې په ټولنه کې د مصرف او کلتور له پلوه هم ملاتړ کېږي. د دې لپاره چې په هېواد کې تولید شوي محصولات او توکي د ښه کیفیت په درلودلو سره په هېواد کې د وارداتي محصولاتو سره د سیالۍ وړتیا ولري، د قانوني وسایلو او میتودونو له لارې باید په ټیټه بیه مشتریانو ته وړاندې شي. د پورتنیو موخو د ترلاسه کولو لپاره یو له خورا مهم لارو څخه د مناسبو ګمرکي تعرفو لګول دي. د مناسبو ګمرکي تعرفو په ټاکلو سره کولای شي د کورنیو تولیداتو ملاتړ وکړي ترڅو د وارداتي محصولاتو او توکو پر وړاندې اقتصادي ملاتړ ولري. مناسبې ګمرکي تعرفې کولی شي د توکو او محصولاتو داخلیدل کنټرول او تنظیم کړي. د مناسبو ګمرکي تعرفو او پر وارداتي توکو او محصولاتو د مناسبو تعرفو د لګولو پایلې د ملي تولیداتو ملاتړ کوي، چې مالي ثبات رامنځ ته کوي او له هېواد څخه د پانګې د فرار مخه نیسي. د دې تر څنګ د کورنیو یا ملي تولیداتو ملاتړ د محصولاتو کیفیت او معیار لوړوي او په هېواد کې د بېکارۍ ستونزه حلوي. د محصولاتو د کیفیت په لوړېدو سره په کورنیو توکو د

خلکو باور زيات شوی او هېواد کولای شي د اقتصادي خودکفايی پر لور ستر گامونه واخلي. د افغانستان اسلامي امارت د لوړو علمي واقعيتونو او رغنده معيارونو له مخې د نورو اقتصادي مسايلو ترڅنګ د کورنيو توليداتو ملاتړ هم په خپلو سلو کاري پلانونو کې شامل کړی او تل يې هڅه کړې چې له دې لارې هم ګټه پورته کړي (درد، ۱۴۰۱، ص. ۴۵-۴۶).

## د کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره اقتصادي وسايل

په نننی عصر کې د ټولو سوداګريزو تګلارو تر څنګ د کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره بېلابېل ډوله اقتصادي وسيلې شتون لري، چې له هرې يوې څخه د لنډ مهاله او اوږدمهاله اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره ګټه اخيستل کېږي. د دې وسايلو تفصيلي پېژندنه او همدارنګه د دوی اغېزمنه اقتصادي ګټه اخيستنه به د دولت اقتصادي اهدافو په ترلاسه کولو کې د پام وړ مرسته وکړي. د دې برخې محتوا د کورنيو توليداتو د ملاتړ مختلفې وسيلې، د لېږد تاديات (سبسايډي) او د مالياتو معافيت معرفي کوو (درد، ۱۴۰۱، ص. ۴۶).

## د کورنيو توليداتو په ملاتړ کې د سبسايډي رول

د سبسايډي او نورو سوداګريزو پاليسيو ترمنځ يو توپير دا دی چې سبسايډي يو ډول تاديه ده چې حکومت يې د خپلو اقتصادي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ورکوي. مګر تعرفه او د سوداګرۍ محدوديتونو نورې پاليسۍ د مالياتو او رسيدونو يو ډول دی يا د سوداګريزو محدوديتونو يو ډول مقررات دي. په بل عبارت سبسايډي د دولت لپاره د مکلفيتونو رامنځ ته کولو او مصرف زياتولو اساس دی، په داسې حال کې چې تعرفه د محصولاتو فکتور دی. د دولت لپاره عايد لاسته راوړي، مګر دولت د دې ملاتړ کوي چې کورني توليدات بايد د دې پاليسيو څخه کوم يو غوره کړي او تعقيب کړي. دا په مختلفو اقتصادي عواملو او پاليسيو او د اقتصادي چارو په اجرا کوونکو پورې اړه لري مګر د دې پاليسيو څخه هر يو يې مختلفې پايلې لري (درد، ۱۴۰۱، ص. ۴۷).

## کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره سبسايډي او ډولونه

د سبسايډي لپاره مختلف تعريفونه شتون لري، د سبسايډي يو تعريف په لاندې ډول دی: سبسايډي د مرستې يو ډول دی چې دولت يې د اقتصاد د نورو برخو د مصرف لپاره د يو ځانګړي سکتور توليد کوونکو يا د ځانګړي محصول مصرف کوونکو ته ورکوي. يا د خدماتو سکتور کاروونکي يا د توليد عامل ته ورکوي مګر په بدل کې انعام يا مالي عوض نه ترلاسه کوي، د دولت يوازينی شرط دا دی چې

د مرستې ترلاسه کوونکي د تولید، یا عرضه کولو لپاره خپل عمل بدل کړي یا تنظیم کړي.، یا په دې ډول د توکو مصرف کول، یا د اړونده اقتصادي فعالیتونو هڅول یا په دې لاره (غیر مستقیم) د پرمختګ مخه نیسي. د تولید سبسایډي معنی د تولیدي موسسو لپاره د دولت سبسایډي تادیه کول دي چې د تولید مصرف کموي او په پایله کې د تولید کوونکو شرایط زیاتوي. د مصرف کوونکي سبسایډي د ټولو مصرفي توکو لپاره تادیه کېږي او هدف یې د مصرف کوونکو ساتنه ده. د سبسایډي تادیه معمولا د مالیه ورکوونکو څخه تولید کوونکو یا مصرف کوونکو ته د عاید لېږدولو اهدافو لپاره وي، یا د عاید ویش تنظیم کولو هدف لپاره، د عرضه یا تقاضا د کشش میکانېزم له لارې د عرضه کوونکو یا تقاضا کوونکو پر چلند اغېزه کوي. د مطلوب محصول د نرخ کچې ساتل د انفلاسیون ضد پالیسۍ برخه ده. د تولید سبسایډي کولی شي د مختلفو ډولونو او اشکالو له لارې صورت ونیسي، کوم چې لاندې یې یادونه کېږي (دردمل، ۱۳۹۰، ص.۷۲).

**د تولیدي فعالیتونو د ضایعاتو د جبران لپاره سبسایډي**

د دولت له خوا د عامه بودیجې له لارې دولتي شرکتونو او دولتي انتفاعي موسسو ته د دوی د زیانونو جبرانولو لپاره ورکول کېږي. له اقتصادي اړخه، د داسې بنسټونو فعالیت باید له ټولنیزو ګټو سره یو ځای شي، چې له دې جملې څخه موږ کولای شو د برېښنا، څښاک اوبه، مخابراتي او ټرانسپورټي شرکتونه او داسې نور یادونه وکړو. د تادیاتو په دې طریقه کې دولت په مستقیمه توګه په بازار کې مداخله نه ده کړې، بلکې د مالي کال تر پایه د دغه ډول شرکتونو د زیانونو په جبرانولو کې مرسته کوي (دردمل، ۱۳۹۰، ص.۷۳).

**نهادونو ته ورکړل شوې سبسایډي**

د تادیاتو په دې طریقه کې، حکومت د تولیدي لګښتونو د کچې د ټیټ ساتلو یا د تولیدونکو عایداتو د لوړولو لپاره د بنسټونو بیه کمولو لپاره سبسایډي ورکوي، چې کیدای شي د تولید عوامل ارزانه ویش یا د اسعارو تخصیص د آزاد بازار نرخ څخه ټیټ نرخ وي. د تادیې په دې طریقه، دولت په حقیقت کې د منابعو د تخصیص په سیستم کې لاسوهنه کوي او د خپلو اقتصادي موخو سره سم خپل لوري ته بدلون ورکوي. ډېری اقتصاد پوهان د سبسایډي تادیه کولو دا طریقه د اقتصادي توکو سره مخالف ګڼي. مګر په داسې حالت کې چې د زېرمو په مقدار کې لوی محدودیت شتون لري د لوکس او تجملي مالونو لپاره د بډایه ډلې د لوړې غوښتنې سره سره د دولت له مداخلې پرته سرچینې د آرایشي توکو تولید ته

لېږدول کېږي او په ځينو قضيو کې د دوی لوړ نرخونه (توليد عوامل) د دې لامل کېږي چې دوی په سمه توگه ونه کارول شي او د توليد اغېزمنتوب او کچې راټيټه شي. د مثال په توگه موږ کولی شو د کيمياوي سرې يادونه وکړو، چې لوړ لگښت يې د حيواني سرې سره بدلېږي او توليد کموي، له همدې امله حکومت د ځانگړو توکو لپاره ځينې بنسټونو ته سبسايډي ورکوي (دردمل، ۱۳۹۰، ص.۷۳-۷۴).

**د نوي تاسيس شوي او زيربنايي صنعتونو د ملاتړ لپاره سبسايډي**

دا د هغه توليداتو ملاتړ دی چې د هېواد لپاره ستراتيژيکې زيربناوې دي. د خپل صنعتي بنسټ د سمبالولو او پياوړتيا لپاره، ډېری صنعتي هېوادونو د ساختماني وزير له خوا له نوي تاسيس شوي صنعتونو څخه ملاتړ کړی دی، د دې ډول تادياتو يوه ځانگړتيا د يوې ټاکلې مودې وروسته د هغې لنډ مهاله اړخ دی. د وخت په تيريدو سره نوی تاسيس شوی صنعت بايد گټور وي او د توليد مصرف بايد د توليد اندازې سره سم کم شي؛ ترڅو د خپل ملاتړ دورې تاوان جبران کړي (رحيمی، ۱۳۷۱، ص.۷۲).

**د صادراتو سبسايډي**

د تعرفو او سوداگرۍ "GAT" په اړه د عمومي تړون د ۱۶ مادې د A برخې له مخې د صادراتو سبسايډي معنی دا ده چې هر ډول سبسايډي، د هر ډول عايد يا قيمت ملاتړ په شمول، چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د هر محصول صادراتو زياتولو لپاره عمل کوي. د هغه تعبير پر بنسټ چې وروسته رامنځ ته شو، د "صادراتو زياتوالی" جمله په پام کې نيول شوې وه چې د صادراتو په لوړه کچې کې ساتل د هغه څه په پرتله چې د سبسايډي په نشتوالي کې شتون لري. د صادراتو سبسايډي د دولت د ملاتړ يو له مهمو ډولونو څخه دی، د صادراتو د ودې پاليسي کيدای شي د مالي مرستو، چاپيريال اسانتياوو، يا مستقيم مداخلې په چوکاټ کې وي. دا ډول سبسايډي د صادراتو د ودې په ستراتيژۍ کې د صادراتو پراختيا لپاره کارول کېږي يا کله چې د هېواد صنعتي توليد يوه برخه د نورو هېوادونو له خوا د مصنوعي ډمپينگ سره مخ کېږي. د دې سبسايډي يوه مثبته ځانگړتيا د سوداگرۍ بيلانس زياتوالی او د کارموندنې ترکيب دی. مگر دا بايد په پام کې ونيول شي چې د دې سبسايډي اغېزې او گټې هغه هېوادونو ته ځي چې دا محصولات واردوي، ځکه چې دا سبسايډي د صادراتي توکو بيې ټيټوي. دا ډول مرستې کولی شي د نړيوالو بازارونو ترلاسه کولو او د موجوده شرايطو سره د توليد کوونکو موافقت پورې دوام ومومي (رحيمی، ۱۳۷۱، ص.۷۲-۷۳).

**د کورنیو تولیداتو د ملاتړ بېلا بېل لاملونه**

د کورنیو تولیداتو د ملاتړ بېلا بېل لاملونه په لاندې ډول واضح شوي دي.

**۱. د ځوان صنعتونو د ملاتړ مسئله:** د نوو تاسیس شویو صنعتونو د ملاتړ موضوع د اتلسمې پېړۍ له پای او د نولسمې پېړۍ له پیل څخه په امریکا کې د الکساندر هیملټن او په آلمان کې د فریډریک لیست له خوا راپورته شوه. دغو دوو کسانو له یوې خوا د خپل هېواد د صنعتي کېدو په اړه فکر کاوه او له بلې خوا د دې احتمال چې د انگلستان د صنعتي کېدو او د دغه هېواد له خوا د ازادې سوداگرۍ دودول به د دغه هېواد د صنعتي کېدو مخه ونیسي، دا مسئله راپورته کړه. په خپلو هېوادونو کې د نویو صنعتونو ملاتړ کوي. د نن ورځې په پراخه بڼه کې بحث عموما په پرمختللو هېوادونو پورې اړه لري چې د صنعتي کېدو په پړاوونو کې دي. د نوي تاسیس شوي صنعتونو ملاتړ لاهم په هر هېواد او هر هغه صنعت کې کارول کېدی شي چې پیمانه اقتصاد لري (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۴).

د نویو تأسیس شویو صنعتونو مسله د موقتي ملاتړ په اړه بحث کوي، تر څو نوي تأسیس شوي صنعتونه په نړیوال بازار کې د ورته شرایطو لاندې د بهرنیو تولیدونکو سره سیالي وکړي. د داخلي سپما مسله د هغه زیانونو پرتله کول دي چې د تولید په لومړیو مرحلو کې شتون لري د خالص گټو سره چې په راتلونکي کې به ترلاسه شي. مگر په حقیقت کې دا هغه مسله ده چې ټول تولیدي واحدونه ورسره مخ دي، پرته له دې چې دوی وارداتي بدیل توکي تولید کړي (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۴-۱۲۵).

**۲. د استخدام او ملاتړ مسله:** د دې مسلې پر بنسټ د بیکارۍ په دوره کې د تعرفې یا هر ډول وارداتو محدودیت پالیسي وضع کول به د وارداتو د کمښت او د کورني تولید د زیاتوالي لامل شي. د وارداتو په کمولو سره، کوم چې د تعرفو په لگولو سره ترسره کېږي، په مستقیم ډول د وارداتو بدیل توکو پورې اړوند صنعتونو کې د کارمونډنې زیاتوالی رامنځ ته کیدلی شي او د کار زیاتوالی د نورو صنعتونو لپاره هم گټندی کوي. د کورنیو تولیداتو د زیاتوالی په پایله کې کار او ملي عاید زیاتېږي. د ۱۹۳۰ لسیزې د سختې بیکارۍ په جریان کې، دا مفکوره چې ملاتړ د بیکارۍ لپاره گټور او اغېزمن حل کیدی شي کارول کیده. په هرصورت، د دې مسلې په اړه یو څو ټکي باید په پام کې ونیول شي.

الف: که یو هېواد د نوي تعرفې په لگولو سره خپل واردات کم کړي، د کورني کار د زیاتوالي له امله به د مقابل هېواد صادرات هم کم شي او دا به د مقابل هېواد د کارمونډنې د کمښت لامل شي. په بهر کې د کار او عاید په کمیدو سره په وارداتو کې چې د هېواد مطلوب صادرات دي لږ لگښت راځي. په دې

توګه د کورني کارموندنې د زياتوالي لپاره د وارداتو کمولو پاليسي د نړۍ په هېوادونو کې خورا مشهوره نه ده. په حقيقت کې دا ډول سياست د بهرنيو هېوادونو د وارداتو په کمولو سره نورو هېوادونو ته د بې کارۍ د صادرېدو لامل کېږي.

ب: د نورو هېوادونو د متقابل عمل له امله د هېواد صادرات ډېر کمېږي. يو هېواد چې د وارداتو محدوديتونو سره د ګمارلو هڅه کوي د صادراتو سکتور کې د بيکارۍ سره مخ کېږي په دې ډول پاليسۍ کې د نورو هېوادونو د رضايت او متقابل عمل نشتوالی او په پايله کې د نړيوالو سوداګريزو اړيکو کموالی شامل دی. دا بايد په پام کې ونيول شي چې کله واردات د کورني کار په لور محدود وي، د نړيوالې سوداګرۍ د کمښت له امله رامينځته شوي زيانونه بايد پرتله شي او د کورنيو توليداتو د زياتوالي په پايله کې د ګټو سره په پام کې ونيول شي.

ج: د کارموندنې زياتوالی عموما دا لنډ مهاله او موسمي مسله ده د تعرفې په لګولو سره کوم چې په اسانۍ سره لرې کيدی نشي او د سرچينو دايمي تخصيص ته اړتيا لري. سربيره پردې د کارموندنې مسله په دې ټينګار کوي چې هر اړخيزه بيکاري د خالص ملي عايد د زياتوالي لپاره د نسبي ګټې په پام کې نيولو پرته هر ډول توليد ته اړتيا لري. دا په دې مانا ده چې په توليد کې هر هغه فکتور چې لوړ ځواک او تاثير لري بايد وکارول شي. په دې توګه، د دې ډول پاليسۍ د پلي کولو پايله به په اقتصاد کې د توليد عوامل نامناسب تخصيص وي. په هرصورت موږ بايد په دې حقيقت پوه شو چې لږ هېوادونه د پيسو او مالي پاليسيو په کارولو سره کولی شي خپله لويه بيکاري له منځه يوسي پرته له دې چې دا د نړيوالې همکارۍ سره مل وي. کله چې هېوادونه په ګډه کار کوي د کورنيو اقداماتو په همغږي کولو سره دوی کولی شي د سوداګرۍ کمولو يا ګډوډولو پرته د کارموندنې مخه ونيسي (پورمقيم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۶-۱۲۷).

**۳. ټيټ معاش او ملاتړ:** په مختلفو هېوادونو کې د معاشونو په کچې کې لوی توپير شتون لري. د دې حقيقت له امله يو هېواد چې د مزد کچې يې ټيټه وي کولی شي يو محصول د هغه هېواد په پرتله په ټيټه بيه وپلوري چيرې چې مزد لوړ وي. ځينې مدافعين په دې نظر دي چې د ټيټ معاش لرونکو بهرنيو کارګرانو سره د سيالۍ څخه د کارګرانو د ساتنې لپاره د لوړ معاش لرونکي هېوادونو (پرمختللو هېوادونو) له خوا د ټيټ معاش لرونکو هېوادونو له خوا ګمرکي محصولات وضع شي.

د نړيوالې سوداګرۍ د اصولو له مخې يو څوک د پورتنۍ مسلې په ضعف پوهيدلی شي. هغه هېواد چې لوړ معاش لري په اسانۍ سره کولی شي د ټيټ معاش لرونکي هېواد سره سيالي وکړي. مزدور د توليد يوازينی عامل نه دی، بلکې نور عوامل هم شته لکه سرمايه او ځمکه او د دغو عواملو تناسب د توکو په

تولید کې له نورو توکو سره توپیر لري. دا نظریه چې د تولید فکتورونو بیه خورا لوی توپیر لري له همدې امله په هغه هېوادونو کې چې پانګه ارزانه وي دوی کولی شي په کم مصرف سره د پانګې په کچې توکي تولید کړي او په هغه هېوادونو کې چې ارزانه او ډېر کارګران وي وړ توکي تولیدکیدای شي (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۷).

## د ملاتړ نور دلایل او مسایل

الف: د تادیاتو توازن ښه کولو لپاره ګمرکي تعرفې: د هېواد د تادیاتو توازن ممکن له ستونزو سره مخ شي د ګمرکي تعرفو په لګولو سره هغه ستونزې چې د تادیاتو په توازن کې شتون لري تر ډېره حده حل کیدی شي. ګمرکي تعرفه واردات محدودوي او د تادیاتو د توازن ښه کولو کې مرسته کوي.

ب: په هېواد کې د پیسو ساتل: د دې مسالې پلویان په دې باور دي، که چیرې د هېواد اوسیدونکي په کور دننه تولید شوي توکي واخلي نو هېواد به یې خپل مال او پیسې دواړه ترلاسه کړي او په دې توګه هغه هېواد چې د وارداتو مخه نیسي بډایه کېږي.

ج: د کورني بازار لامل: دا بحث د دې ادعا پر بنسټ دی چې کورني تولیدونکي په کورني بازار کې حق لري او د وارداتو په کمولو یا له منځه وړلو سره ډېر توکي په کور دننه تولیدیږي د کارموندنې زیاتوالی او پایله یې د کورنیو فعالیتونو هر اړخیز زیاتوالی دی. د دې بحث کمزورتیا له دې حقیقت څخه راځي چې د کورنیو تولیداتو د ودې په لور د وارداتو هر ډول بدلون به په پای کې د صادراتو او تولیداتو د کمښت لامل شي. که چیرې هېواد وغواړي چې خپل توکي بهر ته ولېږدوي یوازې کولی شي د صادراتو په دوام سره وارداتو ته دوام ورکړي. له همدې امله د بهرنیو او وارداتي سرچینو څخه کورنیو اکمالاتو ته د اکمالاتو لېږد په هېڅ ډول د حقیقي پیرود ځواک نه زیاتوي. په حقیقت کې د کورني بازار بحث د لړ اغېزمن انتخاب او د اصلي پیرود ځواک د کمښت لامل کېږي (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۸).

## د کورنیو صنعتونو لپاره د حکومت ملاتړ

د اقتصادي ودې بېلګې او د پرمختللو هېوادونو تجربې ښیي چې د حکومت له څارنې، ملاتړ او هڅونې پرته د کورنیو صنایعو د ودې، پراختیا او ساتنې امکانات ناشوني دي، یعنې حکومت باید د هېواد د صنعتي پرمختیا په لاره کې اغېزمن او پرېکنده رول ولوبوي خو له بده مرغه نن ورځ د افغانستان بې ځایه تجارت او د کورنیو صنعتونو لپاره د حکومت نه ملاتړ او هڅونې دا هېواد د بې کیفیته مصرفی توکو او د ګاونډیو هېوادونو په تیره بیا پاکستان، ایران او چین د غیر ضروري عیش و عشرت په بازار بدل کړی دی.

د بېلګې په توګه په دې وروستيو کې د هرات د فابريکو يو زيات شمېر مالکان د بهرنيو سيالانو په وړاندې ناکام شوي او خپل کاروبار يې له لاسه ورکړی د بهرنيو توکو بې توپيره واردات او د حکومت د ملاتړو پاليسيو نه شتون په ګوته کوي. هرات چې د افغانستان يو له نسبتاً امنيت لرونکي ولايت څخه دی د توليداتو په برخه کې د پام وړ پانګونه کړي ده (هئيت، ۱۳۵۶، ص.۱۰۹).

په لومړيو کې د هرات صنعتي ښار ښه ځلېدلی او توليداتو يې په ټول افغانستان کې بازار موندلی او د کار په ډګر او د کورنيو توليداتو په زياتولو کې يې ښه رول لوبولی، خو د وخت په تېرېدو سره د فابريکو خاوندان پوه شول چې د توکو د واردېدو په مقابل کې بهرنيان دي. په ځانګړې توګه هغه کسان چې له پاکستان او ايران څخه راځي، د سيالۍ توان نلري. او په پايله کې له ۲۰۰۵ کال راهيسې په دغه ښار کې د شاوخوا ۳۰۰ فابريکو له ډلې څخه نيمايي يې اوس تړل شوي او پاتې نورې يې هم له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګريوان دي. له همدې امله يوه مهمه ستراتيژي چې اوس مهال کولی شي د کورنيو توليداتو اندازه لوړه کړي او د ماشومانو صنعت وده وکړي د دولت د ملاتړ لرونکو پاليسيو پلي کول دي. د بېلګې په توګه حکومت کولای شي د کورنيو توليداتو لپاره ځينې مالیې معاف کړي او د کورنيو صنعتونو د اړتيا وړ خام مواد د ګمرکي محصول له ورکړې معاف کړي او په همدې توګه د صادراتي توکو پر وړاندې ترانزيتي خنډونه تر ممکنه حده راکم کړي (هئيت، ۱۳۵۶، ص.۱۰۹-۱۱۰).

په پای کې د کورنيو توليداتو د ملاتړ د فرهنګ د بنسټيز کولو په موخه دولت کولای شي د کورنيو توليداتو پېرلو ته لومړيتوب ورکړي، ترڅو د اړتيا وړ توکي د خپلو اړوندو ارګانونو له لارې عرضه کړي او د رسنيو له لارې د ملي توليداتو په ګټه اغېزمن اعلانونه وکړي (هئيت، ۱۳۵۶، ص.۱۰۹).

**موندنې**

لکه څرنګه چې موږ پورته خپلې موخې ذکر کړي دي او موږ په لومړۍ موخه کې ويلي وو، چې (د داخلي توليداتو پېژندنه) نو همدې موخې ته په کتو ويلی شو چې خلک بايد د توليداتو په برخه کې لومړی د هېواد داخلي توليدات وپېژني او د داخلي توليداتو لپاره بايد تر هر څه وړاندې عامه پوهاوی ترسره شي د خلکو سره يې ګټې شريکې شي او د خپلو توليداتو څخه استفاده وکړي تر څو داخلي توليدات پرمختګ وکړي او ګټه يې د هېواد اتباعو ته ورسېږي او دوی بايد د هغه توليداتو پروسس رامنځ ته کړي چې د خارجي هېوادونو څخه په لوړو مصارفو دلته واردېږي او دولت بايد د خپلو داخلي توليداتو پوره حمايت وکړي؛ ترڅو هغه ستونزې چې توليدونکي ورسره لاس او ګريوان دي او د داخلي توليداتو د شاتګ باعث شوي دي له منځه يوسي او هر ډول مالي ملاتړ څخه برخمن شي. همدارنګه

بله موخه د (د داخلي توليداتو ملاتړ لپاره د اقتصادي وسايلو په ګوته کول) دي، چې د اوسني وخت سره سم د ملاتړ اقتصادي وسايل په ښکاره ډول په ګوته شوي دي چې اکثره برخې يې په دولت پورې اړه لري او دولت بايد د خپلو توليداتو د پرمختګ لپاره هر ډول اقتصادي وسايل چمتو او د توليدونکو په واک کې ورکړي، چې له يوې خوا به د خلکو اعتماد او باور درجه د دولت پر فعاليتونو باندې زياته شي او له بلې خوا به د کار سطحه لوړه شي او په مستقيم او غيرمستقيم ډول به زيات خلک په کار بوخت شي.

**پايله**

دا غوره ده چې د مناسبو اقداماتو له لارې په يوه هېواد کې د اقتصادي پاليسيو پر بنسټ د کورني توليد ملاتړ وشي. که د نظريې پر بنسټ وي د آزادې سوداګرۍ په لور د ګټې پرتله کول او د ګټې زياتوالی د ټولې نړۍ لپاره ښکاري، نو دا غوره ده چې هغه توکي توليد کړي چې د محدوديتونو له خوا ملاتړ کېږي. دا ممکنه ده چې د ملاتړ محدوديتونو د پلي کولو له امله د توليد زياتوالی د لګښتونو د کمولو او د توليد جريان ښه والی لامل شي په دې حالت کې به بهرني صنعتونه د خپلو توليداتو ګټې له لاسه ورکړي او د داخلي توليداتو په وړاندې د بهرنيو توليداتو سره سيالي وکړي، که د کورنيو توليداتو د ملاتړ د محدودولو پلويان په دې باور وي چې په دې توګه به د اقتصادي ودې او بلوغ مرحلې ته د رسيدو تر وخته د نويو تاسيس شويو صنايعو ملاتړ وکړي او له بهرنيو صنعتونو سره سيالي وکړي. کله چې د توليد دغه پړاو په صنعت کې واقع شي، د محدوديتونو د رامنځ ته کولو هدف او په هېواد کې د کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره منل شوې پاليسي تر لاسه کېږي.

د اقتصادي محدوديتونو د پاليسيو پر بنسټ د کورني اقتصادي ملاتړ پاليسي هغه وخت ډېره بريالۍ کېږي کله چې ملاتړ شوی صنعت د محصولاتو په توليد کې د نسبي ګټې غوره والی ترلاسه کړي او د نويو تاسيس شويو صنعتونو د ملاتړ لپاره د محدوديتونو لګولو په صورت کې، دا هدف بايد تر هغه په صنعتونو کې پلی شي ترڅو دوی وکولی شي د يوې مودې وروسته د مرستې پرته دولت په آزاده توګه (په خپلواکه توګه) توليد ته دوام ورکړي. په لنډه توګه، د ګمرکي تعرفو لګول د کورنيو توليداتو په بنسټونو کې د نسبي ګټو د ملاتړ په اساس ګڼل کېږي، چې پخپله په نورو چينلونو کې د سوداګريز جريان لامل کېږي، چې د آزاد تجارت له لارې د اقتصادي ودې لامل کېږي. په دې اساس، اقتصادي پوهان اجازه ورکوي چې د ګمرکي تعرفو لګولو ته اجازه ورکړي ترڅو د نوي تاسيس شوي صنعتونو ملاتړ وکړي ترڅو دوی د بهرنۍ سيالۍ سره مخ شي.

د نويو تاسيس شويو صنايعو ملاتړ د دولت يو له مهمو دندو څخه ده او تر ټولو اساسي لاملونه يې د سالمو اقتصادي پاليسيو پر بنسټ دي چې موخه يې په هېواد کې د نويو توليد شويو صنعتونو ملاتړ دی. نوي تاسيس شوي صنعتونه د قيمت او مصرف په برخه کې د ورته بهرنيو صنعتونو سره سيالي کولی شي که چيرې دوی د دولت له خوا د کورنيو اقتصادي توليداتو د ملاتړ لپاره د مناسبو پاليسيو په جوړولو کې مرسته وکړي، دوی به وکوالی شي د نړيوالو نرخونو څخه د توکو بيه راټيټه کړي. د توليد د ګټو له مخې کولی شي د ورته بهرنيو ادارو محصولاتو سره سيالي وکړي، په دې حالت کې حکومت کولی شي لګول شوي محدوديتونه لغوه او لېرې کړي.

**واړنديزونه**

۱. د توليد د مفهوم او ډولونو او ترکيب ته په پام سره په هېواد کې د داسې توليد رامنځ ته کول چې وکړای شي زموږ د موجوده منابعو، او نورو اساساتو ته په پام سره د ټولنې سره هر اړخيزه مطابقت ولري او وکړای شي په هېوادکې د يو پراخ توليد زمينه مساعده او په دې سره زموږ د هېواد توليدي ظرفيت په هر اړخيز ډول لوړوالی پيداکوي او له دې لارې د هېوا د د تجارت بېلانس هم تعادل پيداکوي.

۲. د خلکو د اړتياوو په پام کې نيولو سره د توليد پروسه چټکه شي او د هغوی کميت او کيفيت په پام کې ونيول شي او د توليد په پروسه کې د اضافي مصرف څخه مخنيوی وشي.

۳. د توليد لپاره بايد لومړی د خامو موادو منابع تثبيت شي. د توليد پر منظور بايد د خامو موادو تهيه کولو لپاره لومړني امکانات برابر شي.

۴. د توليد د تبادلې لپاره بايد داخلي او خارجي مارکيټونه په پام کې ونيول شي.

۵. زراعتي محصولاتو او هغو توليداتو لپاره چې په لنډه موده کې خپل کيفيت له لاسه ورکوي بايد مناسب او مجهز ګودامونه او د ساتنې ځايونه په پام کې ونيول شي.

۶. په توليدي موسسو کې بايد فني او مسلکي اشخاص استخدام شي او دمسلکي لايقو اشخاصو روزلو لپاره زمينې برابرې شي.

۷. توليدي موسيسې بايد په هغو ځايونو کې تاسيس شي، چې د يوې خوا خام مواد، کارخانې ته انتقال او له بلې خوا ملي او يا نړيوال مارکيټ ته لار ولري.

۸. د توليد د هڅونې او زياتوالي لپاره بايد د دولتي فابريکو ترڅنګ خصوصي تشبث او شخصي ملکيتونوته دې هم پوره موقع ورکړل شي. د دې سوا بايد مناسبه عصري تکنالوژي هم وارده شي.

۹. زموږ هېواد افغانستان په واقعي توګه زيات توليدات چې په داخل د هېواد کې په مصرف سره رسيږي هغه ټول د بهرڅخه راوړل کيږي نو زموږه دولت ته لازمه ده چې په مختلفو برخو سره په مختلفو ځايونو کې تصديګاني پرانيزي او د واريداتو اندازه کمه کړي او کومي تصديګاني چې په داخل د هېواد کې توليدات ترسره کوي هغه بايد زياتي تشويق شي.

۱۰. زموږ د هېواد په هر اړخيز ډول وروستيو جنګونو، د منطقي غلطو سياستونو او داسې نورو عواملو چې په هېواد کې د توليد د ډېر وروسته کيدو لامل ګرځيدلي دي. بايد زموږ د وخت حکومتونه د هېواد د نورو اقتصادي موضوعاتو په منځ کې دغې برخې ته زياته توجه وکړي ځکه هغه شرايط چې د يو پراخ توليد لپاره ضروري دي زموږ هېواد کې نسبتاً په پراخ ډول پيداکيږي، لکه ارزانه او پراخه دکار قوه، طبيعي عوامل او داسې نور چې کولای شي په لږ توجه سره يو مؤثر توليد که هغه په هره برخه کې وي رامنځ ته کړي.

## مأخذونه

اخګر، جمال. (۱۳۹۰). د توليد او مصرف تيوري.ننګرهار: محمديه کتاب پلورنځي.
پورمقيم، سيدجواد. (۱۳۷۰). تجارت بين المللی نظريه ها و سياستهای بازرگانی. تهران: انتشارات نشرنی.
درد، عبدالرحمن .(۱۴۰۱). ستراتيژيک مديريت. ننګرهار: ختيځ خپرندويه ټولنه.
دردمل، رحيم جان. (۱۳۹۰). تصدي اقتصاد. ننګرهار: دانش خپرندويه ټولنه.
رحيمی، عباس کلانتری. (۱۳۷۱). تحليل او برسی اقتصاد سبسايډی. تهران: بهمن انصاری.
سبحاني، ګلاب شاه. (۱۳۸۹). د جنس توليد. ننګرهار: ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز.
هئيت، ضيأالدين. (۱۳۵۶). اقتصاد بين المللی. تهران: انتشارات اميرکبير.

# Marketing for the Domestic Products

Senior Teaching Assistant Hafizullahmeen Amin, Shaikh Zayed University, Faculty of Economics, Department of Business and Administration
**Email:** hafizullahmeenamin@szu.edu.af

**Abstract**
There is no doubt that the issue of economics and scientific thought should be at the forefront of government programs, and the concern for development and taking steps towards progress are considered one of the basic goals of today's society; therefore, supporting production, moderation in consumption, and a sense of economic prosperity for the country are created. Supporting domestic production and educating people about consumption have many positive effects on society, including economic growth, job creation, solving unemployment problems, increasing income, developing domestic talents, growing international trade, developing industries and factories, and so on. Domestic production creates social and economic outcomes and leads to sustainable development, because sustainable development is possible based on domestic production. Domestic production is largely dependent on the agricultural and industrial sectors and is very important in the growth, development, and economic stability of our country; therefore, the agricultural sector is one of the most important sectors for economic growth and development and is considered the most important source of income in the country, as it constitutes a quarter of the Gross Domestic Product (GDP) and more than (50) percent of the country's people are employed in this sector. The industrial sector has a significant contribution to the country's economy and has high potential; because this sector plays a fundamental role in the country's economic chain. The industrial sector includes domestic products such as construction materials, food products, plastic industries, handicrafts, and others. After meeting national needs and demands, products are offered for export to other countries, and the export and trade development community becomes a large and independent economic power in the international arena; Therefore, the positive effects of supporting domestic products and the importance of domestic products on economic growth have been discussed in this article; So that on the one hand, supporting our domestic products and industries can be done in the light of laws and regulations, and on the other hand, we can provide the same in terms of consumption and culture, which means supporting domestic products means growth and development, and on the other hand, employment of the labor force within the country is created and plays a key role in eliminating unemployment.

**Keywords**: Employment, Economic growth, Marketing, Unemployment, Domestic production.